بسم الله الرحمن الرحيم

**پوښتنه او ځواب**

**د سورېې پېښې او د اسد د نظام نسکورېدل**

**پوښتنه:**

الشرق الاوسط ورځپاڼې د ۲۰۲۴م د ډسمبر په ۸مه نېټه ولیکل: د اسد نظام نسکور شو: د سورېې مخالفینو نن د یکشنبې په ورځ اعلان وکړ، چې دمشق یې ازاد کړ او د ولسمشر بشار الاسد حکومت یې، چې ۲۴ کاله یې دوام وکړ، نسکور کړ. د مخالفینو په بیانیه کې چې د رسمي ټلویزیون له لارې خپره شوه، راغلي دي: «د الله سبحانه وتعالی په مهربانی سره دمشق ازاد شو او د بشار الاسد طاغوت نسکور شو.» همدارنګه مخالفینو اعلان وکړ، چې ټول زندانیان ازاد شول.

هیئت تحریر الشام د سورېې په شمال کې «د ټېري مخنیوی» تر سرلیک لاندې د ۲۰۲۴م کال د نومبر په ۲۷مه نېټه برید پیل کړ او له هغه وروسته د سورېې ملي پوځ «د ازادۍ پیل» تر سرلیک لاندې د ۲۰۲۴م کال د نومبر په ۳۰مه نېټه برید ترسره کړ. د دغو بریدونو په بهیر کې حلب او د ادلب ټولې سیمې او ورپسې د حماه او حمص ښارونه او نن ورځ دمشق هم ونیول شول او دغه ټول پرمختګونه په لسو ورځو کې وشول. په سوریه کې د دغو پېښو حقیقت څه دی؟

الله سبحانه و تعالی دې تاسو ته خیر درکړي!

**ځواب:**

د موضوع د وضاحت لپاره لازمه ده، چې لاندې حقیقتونو ته پام وکړو:

**لومړی: د برید پیلوونکې ډلې:** د ۲۰۲۴م کال د نومبر پر ۲۸مه د بي‌بي‌سي د راپور پر بنسټ، په برید کې ګډون کوونکې ډلې عبارت دي له: «د الفتح المبین عملیاتو خونه» چې د هئیت تحریر شام لخوا رهبري کېږي او د ترکیې په ملاتړ ازادي غوښتونکې ملي جبهه او د "جیش العزة" ډله دي. همدارنګه «د سورېې ملي پوځ» د هغو مخالفو ډلو د ایتلاف استازیتوب کوي، چې ترکیه یې تر شا ولاړه ده، خو په "الفتح المبین عملیاتو خونه" کې ګډون نه لري. پر همدغه بنسټ په دغه برید کې ډېری ګډون کوونکې ډلې، په ترکیه پورې تړلې ډلې وې، چې تر شا یې د دغه هېواد ملاتړ دی. ملي پوځ د ترکیې په واسطه جوړ شوی دی او هئیت تحریر الشام هم د ترکیې تر نظر او کنټرول لاندې فعالیت کوي. د دغه هئیت او ترکیې تر منځ نږدېوالی او همغږي هغه چاره ده، چې د پېښو د څارونکو پام ځان ته اړوي.

**دویم:** د دغو حرکتونو پیل تر ډېره د بشار الاسد لپاره د ګواښ یو پیغام و، ځکه هغه د اردوغان غوښتنو ته ځواب نه و ورکړی. اردوغان د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین څخه غوښتي وو، چې د انقرې او دمشق تر منځ د اړیکو عادي کولو لپاره د خبرو اترو په چوکاټ کې هڅه وکړي او بشار وهڅوي چې د لیدنې لپاره د اردوغان دعوت ومني (رویټرز خبري آژانس، ۲۰۲۴م د اکتوبر ۲۵مه). خو بشار الاسد نه یوازې دا غوښتنې ونه منلې، بلکې له سورېې څخه یې د ترکیې د ځواکونو د ایستلو غوښتنه هم وکړه او داسې شرطونه یې وټاکل چې د خبرو اترو د ځنډ لامل شول. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر او د دغو خبرو اترو منځګړي "سرګي لاوروف" هم دا مسله تایید کړه او د ترکیې حریت ورځپاڼې ته یې د ۲۰۲۴م د نومبر په لومړۍ نېټه وویل: بشار الاسد د ترکي ځواکونو د وتلو غوښتنه کوي او د سورېې په شمال کې د ترکیې د ځواکونو حضور په دې لاره کې تر ټولو اصلي خنډ دی. دا چلند د اردوغان د غوسې لامل شو او هئیت تحریر الشام او ملي پوځ ته یې شین څراغ ورکړ، ترڅو خپل بریدونه پیل کړي. (د مخالفینو یوې سرچینې چې د ترکیې له استخباراتي دستګاه سره اړیکه لري، د المان دویچه‌وله ته د ۲۰۲۴م د نومبر په ۳۰مه وویل، چې انقرې د دغه برید لپاره شین څراغ ورکړی دی).

**درېیم:** که څه هم په لومړیو کې د دغو خوځښتونو د پیل کېدو موخه دا وه، چې د ادلب شاوخوا د شخړو کمولو لپاره سیمې ازادې کړي او همدارنګه د بشار الاسد او د مخالفینو تر منځ خبرو اترو او یوې سیاسي حللارې ته د رسېدو لپاره، د ترکیې وړاندیز ته د بشار د نه پاملرنې پر خلاف غبرګون وښيي؛ خو دغه خوځښتونه په چټکۍ له دغه چوکاټ څخه ووتل. ډېری سوریایي وګړو چې له کلونو راهیسې د بشار له ظلم څخه ځورېدل، دغه فرصت غنیمت وګاڼه او په ټولو جبهو کې یې خپل قیام پیل کړ. دغه خوځښتونه د ادلب تر شاوخوا سیمو پورې، چې شخړې باید پکې پای ته رسېدلې وای، محدود پاتې نشول، بلکې د سوریې ټولو سیمو ته خپاره شول. له بلې خوا د سوریې پوځ چې دوی هم د بشار الاسد تر ظلم او فشار لاندې وو او له هغه څخه د دفاع انګېزه یې نه درلوده، په پرله‌پسې توګه شا تګ وکړ. په دغو شاتګونو سره هغه خلک چې قیام یې کړی و، په دې وتوانېدل چې له شخړو کمونکو سیمو څخه په چټکۍ تېر شي او حلب، حماه او وروسته حمص ته دننه شي. په پایله کې د خلکو دغه څپه دمشق ته ورسېدله. دغه ټول پرمختګونه په ډېرې چټکۍ او د دغو خوځښتونو له پیل؛ د ۲۰۲۴م د نومبر له ۲۷مې وروسته یوازې په لسو ورځو کې وشول.

**څلورم: د سیمه‌یزو او نړیوالو لوریو دریځونه**

**۱. ایران او روسیه:** ایران او روسیه په سوریه کې د وروستیو بدلونونو په اړه سخت حیران شول. روسیې په بېړه په حمیمیم هوایي اډه او په طرطوس بندر کې خپل امنیتي تدابیر پیاوړي کړل او په همدې وخت کې د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې ټینګې شوې. د انادولو خبري آژانس د راپور له مخې د ۲۰۲۴م د نومبر په ۳۰مه د ایران د بهرنیو چارو وزیر عباس عراقچي او د هغه روسي سیال سرګي لاوروف د سوریې د بدلونونو په اړه مشوره وکړه. د دغو پېښو په غبرګون کې ایران له ترکیې سره ډیپلوماتیکې هڅې پراخې کړې، ترڅو د شخړو او تاوتریخوالي مخه ونیسي. په همدغه وخت کې عباس عراقچي د ۲۰۲۴م د ډسمبر په ۲مه انقرې ته سفر وکړ او د ترکیې له بهرنیو چارو وزیر هاکان فیدان سره یې ولیدل. له بلې خوا هاکان فیدان د امریکا له بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن سره خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې: «د نظام او مخالفینو تر منځ سیاسي بهیر باید د پام وړ او مثبتې پایلې ولري، ترڅو په سوریه کې سوله او امن راشي.» (انادولو خبري آژانس، ۲۰۲۴م د ډسمبر ۱)

**۲. ترکیه:** ترکیې غوښتل چې سیاسي حللارې ته د رسېدو لپاره له بشار الاسد سره سوله‌یزې خبرې اترې وکړي، لکه څنګه چې امریکا هم دې ته ورته غوښتنه درلوده. خو بشار ګومان کاوه، چې له دې حالت څخه ګټه اخیستلی شي او له همدې امله یې د اردوغان وړاندیزونو ته په ځواب ورکولو کې خنډ او ځنډ رامنځته کړ. بشار الاسد ګومان کاوه چې ډلند به د امریکا غوسه نه پاروي. په دې توګه دغه ډلند د اردوغان د ناخوښۍ لامل شو. هغه د امریکا رضایت ترلاسه کړ او پرېکړه یې وکړه چې بشار ته درس ورکړي، ترڅو خبرې اترې په داسې فضاء کې ترسره شي، چې په ظاهره اردوغان ګټونکی وي. له همدې امله ترکیې مخالفې ډلې د بریدونو د پیلولو لپاره وهڅولې او په اړینو وسلو او استخباراتي معلوماتو سره یې د هغوی ملاتړ وکړ.

**الف:** اردوغان د ۲۰۲۴م د اکتوبر په ۲۵مه په کازان کې د برېکس غونډې پرمهال له ولادیمیر پوتین سره تر لیدنې وروسته خبریالانو ته وویل: «د روسیې له ولسمشر پوتین څخه مې وغوښتل چې د انقرې او دمشق تر منځ د اړیکو د عادي کولو په موخه د خبرو اترو د چټکۍ لپاره هڅه وکړي او بشار الاسد د لیدنې لپاره زما دعوت قبول نه کړ.» (رویترز خبري آژانس، ۲۰۲۴م د اکتوبر ۲۵مه).

**ب:** روسان چې د منځګړي په توګه عمل کوي، څو ځله یې اردوغان ته ځواب ورکړی چې بشار الاسد د لیدنې او د اړیکو د عادي کولو لپاره شرطونه لري، چې یو پکې له سوریې څخه د ترکیې د ځواکونو وتل دي. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د ۲۰۲۴م د نومبر په لومړۍ د ترکیې حریت ورځپاڼې ته وویل: «دواړه هېوادونه ترکیه او سوریه د اړیکو د عادي کولو په موخه بیاځلې خبرو اترو ته جدي لېوالتیا لري، خو په دغه مسیر کې اصلي خنډ د سوریې په شمال کې د ترکیې د ځواکونو حضور دی». دغه څرګندونې د بشار الاسد سرسختي ښيي، چې د اړیکو د عادي کولو لپاره د اردوغان له شدیدې لېوالتیا څخه یې ګټه اخیستې ده. همدارنګه هغه د عربي هېوادونو له ملاتړ څخه ګټه واخیسته او په دې باور و چې امریکا هم هغه ته اړتیا لري، ځکه د هغه ځای‌ناستی یې نه دی پیدا کړی.

**ج:** کله چې د ترکیې نظام په اوسنیو شرایطو کې له بشار الاسد سره د خبرو اترو له لارې حللارې ته له رسېدو څخه نهیلی شو، اردوغان د امریکا رضایت ترلاسه کړ چې د سیاسي حللارې لپاره د مقدمې په توګه له نظامي فشار څخه استفاده وکړي. پر همدغه اساس د ۲۰۲۴م د نومبر په ۲۷مه یې وسله‌والې ډلې د بشار پر نظام د فشار راوړلو لپاره وخوځولې. له دې مسلې څخه ښکاري چې د ترکیې نظام د دغو بریدونو د اجازې په برخه کې

کلیدي رول ادا کړی دی. (د مخالفینو یوې سرچینې چې د ترکیې له معلوماتي دستګاه سره په اړیکه کې ده، د المان دویچه‌وله ته د ۲۰۲۴م د نومبر په ۳۰ وویل، چې انقرې د دغو بریدونو لپاره شین څراغ ورکړی دی). له دغه اقدام څخه د اردوغان موخه د خبرو اترو مېز ته د بشار راوستل، له ترکیې سره د اړیکو عادي کول او له مخالفینو سره سوله کول وو، ترڅو په پایله کې د امریکا له غوښتنو سره سمه یوه سیاسي حللاره رامنځته کړي. اردوغان دغه بدلون د سوریې لپاره «نوی پړاو» وباله. هغه د ملګرو ملتونو سازمان له سرمنشي انتونیو ګوتیرش سره په ټلیفوني اړیکه کې ټینګار وکړ: «سوریه یوه نوي پړاو ته داخله شوه، چې په ارامۍ سره مدیریت کېږي.» (عربي۲۱ د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر ۵مه).

۳. **خو امریکا** د سوریې د مخالفینو برید حیرانه نه کړه. د امریکا د ملي امنیت سلاکار، جیک سالیوان وویل: «له نویو شرایطو د سوریې مخالفو وسله‌والو ګټې اخیستنې موږ حیران نه کړو.» (الجزیره نیټ؛ ۲۰۲۴ د ډسمبر ۱). امریکا کومه ځانګړې اندېښنه نه ده ښودلې. الجزیره نټ د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په لومړۍ نېټه د سپینې ماڼۍ په حواله خبر خپور کړ: موږ د سوریې وضعیت څارو او په تېرو ۲۴ ساعتونو کې مو له څو سیمه‌ییزو پلازمینو سره اړیکه نیولې. دغه راز د امریکا د ملي امنیت سلاکار، شان ساویټ وویل: «متحده ایالات له خپلو شریکانو سره د شخړو کمېدو، د ملکي وګړو او اقلیتونو خوندیتوب او یوه نوي جدي او معتبر سیاسي بهیر د پیل کېدو غوښتونکې ده؛ تر څو وکولی شي دا کورنۍ جګړه د تل لپاره د سیاسي حللارې له لارې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۲۵۴ ګڼې پرېکړه‌لیک سره سمه حل کړي.» (آر تي، ۲۰۲۴م کال د ډسمبر ۱) الجزیره نټ د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په ۲مه راپور ورکړ: «د امریکا بهرنیو چارو وزارت په یوه بیانیه کې اعلان وکړ: روانې شخړې د سوریې د خلکو په رهبرۍ یوې سیاسي حللارې ته اړتیا لري؛ داسې حللاره چې د امنیت شورا له ۲۲۵۴ ګڼې پرېکړه‌لیک سره سمه وي.» دا پرېکړه‌لیک چې په ۲۰۱۵ کې تصویب شو، په سوریه کې د سولې پروسې پلي کېدو ته اشاره کوي چې تر اوسه نه ده شوې. د دغه پرېکړه‌لیک له مخې، د سوریې د سولې خبرې اترې باید د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې پیل شوې وای؛ دا پرېکړه لیک پر دې د ټینګار ترڅنګ چې د سوریې ملت باید خپل برخلیک وټاکي، وایي چې یو انتقالي دولت باید جوړ شي، د ملګرو ملتونو تر څار لاندې ټاکنې وشي او پر ملکي وګړو هر راز بریدونه باید ژر تر ژره ودرېږي. الحره د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په ۴مه راپور ورکړی: «بلینکن ټینګار وکړ چې اوسمهال تر ټولو مهم اقدام دا دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرېکړه‌لیک له مخې یو سیاسي بهیر پر مخ لاړ شي چې د سوریې کورنۍ جګړه ختمه کړي» الانباء خبري اژانس هم د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په ۷مه راپور ورکړی: «د ترکیې بهرنیو چارو وزارت اعلان کړی چې موږ پر بلینکن ټینګار کړی چې د سوریې دولت باید له مخالفینو سره خبرې اترې پیل کړي.»

۴. **یهودي رژیم:** یورونیوز (عربي) د ۲۰۲۴م کال د نومبر په ۳۰مه راپور ورکړ: «د اسراییلي رژیم لومړي وزیر، بنیامین نتنیاهو، تېره سه شنبه شپه خپلو خلکو ته په وینا کې اعلان وکړ چې له حزب الله سره اوربند یې منلی. هغه په خپله وینا کې د سوریې ولسمشر، بشار الاسد ته اشاره وکړه او ویې ویل: اسد له اور سره لوبې کوي. له دغو خبرو څو ساعته وروسته سوري ډلو د سوریې په شمال کې د اسد د ځواکونو پر وړاندې همغږي بریدونه پیل کړل؛ دې ګڼې پوښتنې راولاړې کړې. نتنیاهو دغه راز د سوریې په شمال کې د تحولاتو په اړه ځانګړې امنیتي ناسته راوبلله؛ اسراییلي رسنیو دا کړنه د داسې یوې موضوع لپاره د معمول خلاف توصیف کړه.» الجزیره نټ د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په لومړۍ د یدیعوت احرونوت ورځپاڼې په حواله راپور ورکړ: «د اسراییلي رژیم ځواکونو په سوریه کې د یوې ایراني الوتکې د کېناستو مخه ونیوله؛ ځکه چې ښایي په دغې الوتکه کې د لبنان د حزب الله لپاره وسلې او مهمات راوړل شوي وي.» داسې ښکاري چې یهودي رژیم هڅه کوي د سوریې صحنې ته د ایران د بیا راتللو مخه په دې پلمه ونیسي چې ګواکي حزب الله ته وسلې او مهمات راوړي او له دې سره پر لبنان او سوریه د ایران یا حزب الله د نظامي تمرکز مخه ونیسي.

**پنځم: لنډیز؛** پورتنیو توضیحاتو ته په کتو، دا پایلې لاسته راځي:

۱. ترکیه د امریکا په ملاتړ په سوریه کې د کمو شخړو سیمو کې د بریدونو پیلولو مسوله وه.

۲. موخه د یوه جدي سیاسي بهیر پیل او په سوریه کې د نوي نظام جوړولو لپاره نوي پړاو ته تګ و. په دې اړه د ځینو ترکي او امریکایي چارواکو څرګندونې تکراروم: د امریکا د ملي امنیت سلاکار، شان ساویټ وویل: «متحده ایالات له خپلو شریکانو سره د ناندریو کمېدو، د ملکي وګړو او اقلیتونو خوندیتوب او یوه نوي جدي او معتبر سیاسي بهیر د پیل کېدو غوښتونکي دي؛ تر څو وکولی شي دا کورنۍ جګړه د تل لپاره د سیاسي حللارې

له لارې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۲۵۴ ګڼه پرېکړه‌لیک سره سمه حل کړي.» (آر تي، ۲۰۲۴م کال د ډسمبر ۱) د ترکیې ولسمشر، رجب طیب اردوغان د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر په ۵مه وویل: «سوریه یوه نوي پړاو ته ننوتې چې په ارامۍ مدیریت کېږي.» (عربي ۲۱)

۳. که څه هم د هغوی د خوښې حللارې جزیات نه دي مشخص شوي؛ خو روان وضعیت او د ښکېلو څواکونو پراخ شمېر ښيي چې امریکا او متحدین یې په سوریه کې د یوه ایتلافي نظام جوړولو په لټه کې دي. دا نظام به له مختلفو ډلو جوړ وي او د اوسني حکومت ځایناستی کېږي. دغه راز په دغه نظام کې د عراق د کردستان سیمې پشان خودمختاره سیمو د شتون وړاندوینه کېدی شي.

۴. امریکا چې د دغه بهیر رهبري کوي؛ داسې حللاره وړاندې کوي چې د یهودي حکومت ګټې تضمینوي. دا موخه د ۲۰۲۴م کال د نومبر په ۲۷مه د یهودي رژیم او لبنان ترمنځ تړون کې منعکسه شوې ده؛ دا تړون په سوریه کې د جګړې له پیل سره سم وشو. اصلي موخه دا ده چې د حزب الله د ملاتړ لپاره د سورېې صحنې ته د ایران د پیاوړي بیاراتګ مخه ونیول شي او د ایران او د لبنان حزب الله تر منځ ځمکنۍ نظامي اړیکه پرې شي.

دا ټکي په سوریه کې د بریدونو د پیل په اړه د ترکي او امریکایي چارواکو د څرګندونو اصلي موخه ښکاره کوي.

**شپېږم:** په پای کې، په سوریه کې چې نن څه پېښېږي؛ د وینو بهیدنه، ویجاړ کورونه او بېځایه شوې کورنۍ؛ په حقیقت کې ډېر دردناک دي. په ځانګړې ډول دا چې د دغو فجایعو موخه یوې داسې سیاسي حللارې ته رسېدل او د داسې نوي پړاو پیل وي چې په اسلامي نړۍ کې له شتو سیکولر نظامونو سره توپیر نه لري. دا شرایط وروسته له هغه رامنځته شول چې استعمارګرو کفارو او په هغوی پورې تړلو کسانو یوه پېرۍ وړاندې د اسلام حکومتي نظام (خلافت) له منځه یوړلی شو. له هغه وخت راهیسې اسلامي امت د دښمنانو ګډ ښکار شو.

سره له دې؛ اسلامي امت به یو ځل بیا خپل پخواني عزت او افتخار ته ورګرځي او که د الله سبحانه و تعالی خوښه وه، راشده خلافت به تاسیسوي. خو الهي سنت داسې نه دي چې موږ کرار ناست وو او د خلافت د تاسیس لپاره له اسمانه پرښتې راکوزې شي. بلکې مسولیت د هغو کسانو پر غاړه دی چې پر خپل رب ایمان لري او د حق په مسیر کې ډېر هدایت ورته شوی.

دا کسان که په پوځ کې وي که د مخالفینو په منځ کې؛ ان که یې شمېر هم کم وي؛ خو شته دي. که د تېرو لسو ورځو پېښو ته وګورو، د نظام پر وړاندې یوازې د ترکیې او امریکا ملاتړ لرونکو ډلو مخالفت ونه کړ چې سیکولر بدلونونو ته د رسېدو لپاره کار وکړي. بلکې نورې ډلې هم وې چې له ظلم څخه تنګ شوي او د سورېې د مسلمانو خلکو د غوښتنو د تحقق لپاره را میدان ته شوې دي.

موږ دغو کسانو ته په خطاب کې وایو: د هغو فاسدو او سیکولر پلانونو د ناکامولو لپاره خپله ټوله هڅه وکړئ چې استعمارګر کفار او ورپورې تړلې کسان یې لري. هسې نه چې ستاسو قربانۍ بېځایه لاړې او هېرې شي! نو د هغو کسانو ملګرتیا وکړئ چې د اسلامي حکومت او راشده خلافت د تاسیس لپاره کار کوي؛ څو له ستر اجر او بریا څخه برخمن شئ. په دې صورت کې به تاسو له هغو کسانو وئ چې دا زېری ورکړل شوی:

﴿نَصْرٌ مِنَ اللهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ﴾

***ژباړه:*** نصرت د الله سبحانه و تعالی له لوري دی او بری نېږدې دی؛ او مومنانو ته زېری ورکړه.

**د ۱۴۴۶هـ ق کال د جمادي الثاني ۶مه**

**د ۲۰۲۴م کال د ډسمبر۸مه**